سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۷/۱۳

# جاهلان او عاقلان

جاهلان نه په خپل ځان دي نه په بل دي

په شمال که پـه جنوب که په کابل دي

نـادانـان د ټـول جهان دی سره وروڼه

پکی نشته څه توپیر پردی که خپل دي

د بـی عـقلو خـلـکـو سـتره نښـه داوی

چی په سپکه یی تل نورو ته کتل دي

عاقـلان د دښـمنی نـه لـری کـرکه

بدخشان که په هرات که په زابل دي

هوښیاران د نړی وروڼه دی یاران دی

زوریدلي په هرغم کی شریک تل دي

د انسان په ستر کاله کی ستر میرونـه

توکیدلی په هـر بڼ کی لکــه ګل دي



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

بد عـمـل د بنيـادم د ځـان عــذاب شی

که رټل دي که وهـل دي که وژل دي

ظالمان د خـدای ج دښمـن دي کليواله

که عرب دي که عجم دي که مغل دي

تورنتو ــ کاناډا - اکتوبر/ ۲۰۱۶

** * **